**Permanent Mission of Afghanistan to the United Nations**

# د جلالتمآب نصیر احمد فایق وینا

## په ملګرو ملتونو کې د افغانستان دایمي استازولۍ سرپرست

## د افغانستان په اړه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا غونډه

## د ۲۰۲۶ کال د جون ۸مه

**اغلې رئیسې،**

په پیل کې اجازه راکړئ چې د امنیت شورا د ریاست دندې پر غاړه اخیستو له امله کولمبیا ته مبارکي ووایم او تاسو او ستاسو ټیم ته د دې میاشتې په اوږدو کې د لا بریاوو هیله وکړم.

موږ د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ځانګړې استازې مرستیالې آغلې جورجت ګانیون او د بشري چارو د بیړني غبرګون د څانګې مشرې آغلې اېدم ووسومو څخه د دوی د اندېښمنوونکو معلوماتو او راپورونو له امله مننه کوو. همدارنګه د افغانستان د عدالت آرشیف بنسټګرې آغلې مترا مهران څخه مننه کوو چې د افغان ښځو غږ یې دې تالار ته راووړ. د امنیت شورا له غړو او پخوانیو ویناوالو څخه هم د افغانستان له خلکو سره د دوی د دوامدارې همغږۍ او ملاتړ له امله مننه کوو.

**اغلې رئیسې،**

نن غواړم د افغانستان د عادي خلکو لیدلوری له تاسو سره شریک کړم؛ هغه اندېښنې، ناهیلۍ او هیلې چې هره ورځ له هیواد دننه موږ ته رسېږي. د طالبانو له نظامي واکمنۍ نږدې پنځه کاله وروسته، افغانستان لا هم له ژور سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او بشري حقونو بحران سره مخ دی. حقایق روښانه او مستند دي. د دې شورا په وړاندې اساسي پوښتنه دا ده چې آیا دا وضعیت دوام کولی شي او آیا نړیواله ټولنه چمتو ده چې یوازې د بحران پایلو اداره کولو پر ځای د هغه اصلي لاملونو ته د افغانانو او نړیوالې ټولنې د ګټو لپاره رسیدګي وکړي که نه. اجازه راکړئ پنځه هغه واقعیتونه بیان کړم چې له پامه نه شي غورځول کېدای، او پنځه هغه اړتیاوې چې باید زموږ د ګډ غبرګون لارښوونه وکړي.

**لومړی: افغانستان له ژور بشري او ټولنیز بحران سره مخ دی**

د افغانستان دوه ویشت میلیونه وګړي، چې د ټول نفوس شاوخوا دوه پر درېیمه برخه جوړوي، لا هم عاجلو بشري مرستو ته اړتیا لري. فقر او بېکاري پراخه ده، اقتصادي فرصتونه کمېږي، او د افغان ځوانانو او ښځو یو بشپړ نسل نور په خپل هیواد کې د ځان لپاره راتلونکی نهویني.

د بشري پانګې له لاسه ورکول، د فقر زیاتوالی، جبري او کم عمره ودونه، رواني ستونزې او د جرمونو زیاتوالی د داسې ټولنې څرګندې نښې دي چې د محرومیت او بېعدالتۍ تر بار لاندې ماتېږي.

**اړتیا:**

افغانستان داسې ملي لید ته اړتیا لري چې د کارموندنې، معیاري او عصري زده کړو او بشري پرمختګ پر بنسټ ولاړ وي. هیواد نشي کولی پرمختګ وکړي تر هغه چې د هغه د نفوس لویه

برخه د خپل راتلونکي په جوړولو کې له ګډون څخه محرومه وي. له هر څه مهمه دا چې دغه لید داسې سیاسي افق ته اړتیا لري چې د یوه ټولشموله، مشروع او استازي حکومت د رامنځته کېدو لامل شي؛ داسې حکومت چې د دوامدار ثبات بنسټ برابر کړي.

**دوهم: د طالبانو حکومتولي د افغانستان د خلکو په وړاندې ناکامه شوې ده**

د طالبانو له خوا او د طالبانو لپاره جوړ شوی د حکومتولۍ ماډل د هغو خلکو په وړاندې هېڅ ډول حساب ورکونه نه لري چې ادعا کوي پر هغوی حکومت کوي. فساد، له واک څخه ناوړه ګټه اخیستنه او د شتمنیو تمرکز د یوې محدودې کړۍ په لاس کې ښه مستند شوي دي. په ورته وخت کې د افغانستان معدني زیرمې له شفافیت او عامه څارنې پرته استخراجېږي. طالبانو په دوامداره توګه د افغانستان د خلکو غوښتنې او د نړیوالې ټولنې پرلهپسې غوښتنې له پامه غورځولې دي.

**اړتیا:**

افغانستان داسې مشروع، حساب ورکوونکي او د قانون پر بنسټ نظام ته اړتیا لري چې خپل مشروعیت د خلکو له رضایت څخه ترلاسه کړي او ملي سرچینې د ټولو اتباعو د ګټو لپاره وکاروي.

**درېیم: سیستماتیک حذف او تبعیض افغانستان لا زیات منزوي کړی دی**

سږ کال پنځم پرلهپسې کال دی چې افغان نجونې له منځنیو او لوړو زده کړو څخه محرومې دي.

ښځې له عامه ژوند څخه ایستل شوې دي، د مدني ټولنې فضا محدوده شوې او خپلواکې رسنۍ له سانسور سره مخ دي. طالبانو دغه تبعیض د نویو قوانینو له لارې هم رسمي کړی دی؛ داسې قوانین چې د کورني تاوتریخوالي پر وړاندې حساب ورکونه محدودوي او د "خاموش رضایت" تر نامه لاندې د ماشومانو ودونه روا ګڼي.

دا لنډمهاله اقدامات نه دي؛ بلکې د ټولنې د نیمایي برخې د عامه ژوند څخه د ایستلو لپاره قصدي او سیستماتیکې هڅې دي، هغه چلند چې نه د اسلام په اصیلو ارزښتونو کې بنسټ لري او نه هم د افغانستان په تاریخ او دودونو کې. موږ لا هم د خپلسرو نیونو، شکنجې، جنسي تاوتریخوالي، جبري ودونو، هدفمند غچ اخیستنو او د بشري حقونو د نورو جدي سرغړونو د مستندو او تایید شویو راپورونو له امله ژوره اندېښنه لرو؛ په ځانګړې توګه د ښځو، نجونو، د بشري حقونو د مدافعینو، پخوانیو امنیتي ځواکونو او رسنیزو کارکوونکو په وړاندې.

**اړتیا:**

د ملګرو ملتونو، اروپايي ټولنې او سيمه‌ييزو سازمانونو ترڅنګ، اسلامي هيوادونه او د اسلامي همکاريو سازمان بايد لا فعال رول ولوبوي او طالبانو ته روښانه کړي چې دا سختدريځې پاليسی نه يوازې د افغانستان راتلونکی له خطر سره مخ کوي، بلکې د نړۍ په کچه د اسلام حيثيت ته هم زيان رسوي.

د نجونو پر مخ د ښوونځيو او پوهنتونونو بيا پرانيستل بايد د نړيوالې ټولنې لپاره يو نه مذاکره کېدونکی لومړيتوب پاتې شي. همدارنګه د څارنې، راپور ورکونې او حساب ورکونې ميکانيزمونه بايد پياوړي شي او د معافيت کلتور د پای ته رسولو لپاره په اغېزمن ډول وکارول شي.

## څلورم: د اوسني وضعيت عادي کول نه د افغانستان د خلکو په ګټه دي او نه د نړيوالې سولې او امنيت په ګټه

له ملموسو پايلو پرته تعامل او له چلند بدلون پرته امتياز ورکول نه حکومتولي ښه کړې، نه بشري حقونه او نه هم سياسي مشارکت. د سيستماتيک حذف او سياسي ځپنې عادي کول به ثبات رامنځته نه کړي. متضاد پيغامونه او ناسازګارې تګلارې يوازې د اوسني بن‌بست د دوام او د طالبانو د لا زړورتيا سبب شوې دي.

**اړتيا:**

امنيت شورا بايد لا پياوړی، همغږی او منسجم دريځ غوره کړي. پيغام بايد روښانه او ثابت وي: د بشري حقونو، د ښځو د حقونو، ټول‌شموله حکومتولۍ او نړيوالو مکلفيتونو له بشپړ درناوي پرته د مشروعيت ترلاسه کولو يا د افغانستان د نړيوالې ټولنې سره د بيا يوځای کېدو لپاره هېڅ لاره نشته.

## پنځم: د ناامنۍ زياتوالی او د افغانستان د بيا ځل لپاره د افراطيت او تروريزم پر مرکز د بدلېدو خطر

د جګړې نشتوالی بايد له حقيقي سولې سره مغشوش نه شي. حقيقي سوله هغه وخت شتون لري چې نجونې او هلکان په مساوي ډول باکيفيته زده کړو ته لاسرسی ولري، ښځې وکولای شي په بشپړه او مانادراه توګه په ټولنه کې ګډون وکړي، او ټول وګړي له وېرې او تبعيض پرته له خپلو اساسي حقونو او آزاديو برخمن وي او خلک وسله وال مقاومت ته اړ نه شي.

په عامه ځايونو کې د شيعه او هزاره ټولنو د غړو هدفمندې وژنې، د هرات ولايت د انجيل ولسوالۍ په ګډون، د ملکي وګړو مشکوک مړينې، يرغمل نيونې او د ملګرو ملتونو د يوې ښځينه کارکوونکې وژل کېدل، په افغانستان کې د حقيقي سولې او امنيت څرګندونه نه کوي. سربېره پر دې، د جهادي مدرسو دوامداره پراختيا او د نړيوالو تروريستي ډلو دوامداره حضور، چې د

ملګرو ملتونو په پرله‌پسې راپورونو کې تایید شوی، د افغانستان د خلکو، سیمې او نړیوالې ټولنې لپاره جدي اندېښنې رامنځته کړې دي.

د طالبانو پالیسۍ او له تروریستي ډلو سره د هغوی دوامدارې اړیکې پخوا هم د افغانستان خلک له خطر سره مخ کړي وو او اوس يې هم له خطر سره مخ کوي. دا وضعیت د سیمې او نړۍ سولې او امنیت ته هم ګواښ ګڼل کیږي.

وروستیو شخړو او تاوتریخوالو د پاکستان او طالبانو ترمنځ د افغانستان بحران ته یو نوی او خطرناک بُعد ورزیات کړی او د ملکي وګړو د پام وړ مرګ ژوبلې یې رامنځته کړې دي. په ځانګړې توګه په کابل کې د «امید» د معتادینو د درملنې پر روغتون، چې یو ملکي روغتیایي مرکز و، راپور شوی برید خورا د اندېښنې وړ دی. یوناما تایید کړې چې په دې برید کې لږ تر لږه ۲۶۹ کسان وژل شوي او ۱۲۲ نور ټپیان شوي دي. موږ ټول هغه بریدونه په کلکه غندو چې ملکي وګړو ته زیان رسوي، حیاتي زیربناوې ویجاړوي او د افغانستان ځمکنۍ بشپړتیا نقضوي. له امنیت شورا څخه غوښتنه کوو چې دغه ډول بریدونه وغندي او د تکرار مخه یې ونیسي.

هیڅ امنیتي اندېښنه، که هر څومره مشروع هم وي، نشي کولای هغه اقدامات توجیه کړي چې د ملکي وګړو ژوند له خطر سره مخ کوي او یا د ملګرو ملتونو د منشور او نړیوال بشردوستانه حقوقو اصول کمزوري کوي. افغانستان له اوږدې مودې راهیسې د تروریزم قرباني دی او خلکو یې د دې ناورین درنه بیه ورکړې ده. له همدې امله موږ په پاکستان او د نړۍ په نورو برخو کې ټول تروریستي بریدونه په کلکه غندو او د تروریزم پر ضد په هر ډول او هره بڼه د ګډو هڅو پر اړتیا ټینګار کوو.

**اړتیا:**

نړیواله ټولنه او د سیمې هېوادونه باید د تروریزم، تاوتریخجن افراطیت او مخدره موادو د قاچاق پر وړاندې یوه هر اړخیزه، همغږې او اصولي ستراتیژي غوره کړي.

دا ګواښونه یوازې هغه وخت په دوامدار ډول حل کېدای شي چې یو مشروع، ټول‌شموله، استازی او حساب ورکوونکی حکومت رامنځته شي چې خپلو ملي او نړیوالو مکلفیتونو ته ژمن وي او ډاډ ورکړي چې افغانستان به بیا هېڅکله د خپل ولس، سیمې او نړۍ لپاره د بې‌ثباتۍ او ناامنۍ سرچینه نه ګرځي.

**اغلې رئیسې،**

دا ټول واقعیتونه موږ یوې نه انکارېدونکې پایلې ته رسوي: د افغانستان بحران په خپل اصل کې لا هم یو پېچلی سیاسي بحران دی. بشري او اقتصادي مرستې د خلکو د کړاوونو د کمولو لپاره اړینې دي، خو د یوه دوامدار او پایدار سیاسي حل بدیل نشي کېدای.

له یوه باور وړ سیاسي بهیر پرته، دا خطر شته چې افغانستان د کورنۍ جګړې پر لور ولاړ شي. موږ د ملګرو ملتونو له مرکزي رول، د امنیت شورا د ۲۷۲۱ پرېکړه لیک له تطبیق او د داسې باور وړ، ټولشموله او د افغانانو په مالکیت سیاسي بهیر څخه خپل ملاتړ بیا تکراروو چې یوه مشروع، استازې او حساب ورکوونکې سیاسي نظام ته لار هواره کړي. په دې برخه کې د یوناما رول د خپل مأموریت په چوکاټ کې د داسې بهیر د اسانتیا او د ټولو معتبره او اړوندو خواوو د مانادار ګډون د تضمین لپاره حیاتي ارزښت لري.

په داسې حال کې چې د یوناما د مأموریت د تمدید په اړه خبرې روانې دي، موږ د یوې پیاوړې، متوازنې او اغېزمنې مأموریت د ساتلو له ملاتړ څخه خپل ټینګار بیا څرګندوو. موږ همدارنګه د ملګرو ملتونو د سرمنشي د یوه وړ ځانګړي استازي پر وخت ټاکل کېدو اهمیت ته اشاره کوو؛ داسې شخصیت چې د افغانستان په اړه ژوره پوهه ولري، بې‌طرفه، بشري حقونو او د ښځو د حل ته ژمن وي او وکولای شي د افغانستان د تلپاتې سولې او ثبات لپاره یو هر اړخیز سیاسي بهیر پرمخ یوسي.

**اغلې رئیسې،**

په پای کې، موږ له امنیت شورا څخه غواړو چې خپل پیاوړی، متحد او ثابت درېځ وساتي: د بشري حقونو، ټولشموله حکومتولۍ او نړیوالو حقوقو له درناوي پرته مشروعیت، ثبات او نړیوالې ټولنې ته د بېرته ورګرځېدو لپاره هېڅ لاره نشته. له طالبانو سره تعامل باید اصولي وي او د اندازه کېدونکي او د تایید وړ پرمختګونو پورې مشروط وي. ټول ښکېل لوري، په ځانګړې توګه اسلامي هېوادونه او د اسلامي همکاریو سازمان، ځانګړې مسؤلیت لري چې دغه پیغام په روښانه ډول طالبانو ته ورسوي. د حساب ورکونې میکانیزمونه باید د معافیت د پای ته رسولو لپاره وکارول شي، او له تروریزم او افراطیت سره اغېزمنه مبارزه په نهایت کې په افغانستان کې د یوه مشروع او حساب ورکوونکي حکومت شتون ته اړتیا لري. د افغانستان خلک د دې بحران لامل نه دي؛ هغوی یې قربانیان دي.

هغوی داسې هېواد غواړي چې نجونې یې ښوونځي ته ولاړې شي، ځوانان یې راتلونکي ته په هیله وګوري، ښځې یې په ازاد ډول کار او ژوند وکړای شي، او حکومت خپل مشروعیت د خلکو له ارادې ترلاسه کړي. د دغه راتلونکي د تحقق لپاره مرسته کول باید زموږ د ټولو ګډ مسؤلیت پاتې شي. **مننه.**